اور میں سمجھوں گا کہ جو باتیں میں کر رہا ہوں، ان کے نوٹس میں بھی آنی چاہئیں کہ ہم اپنے ہاسپٹلز میں دیکھتے ہیں، اس صوبے کے ہاسپٹلز اپنی بدترین حالت میں موجود ہیں، اس وقت ہاسپٹل جائیں گے تو آپ کو ہاسپٹل نظر نہیں آتا۔ وہاں پہ عجیب و غریب تماشا لگا رہتا ہے، وہاں پہ زور آوروں کا زور چلتا ہے اور غریب کو ایک لال دوائی بھی جو ہے، وہ مفت میں نہیں ملتی، ایک گولی بھی، اس کو پڑیا بھی نہیں ملتی اور سب سے بڑی وجہ یہ ہے کہ آپ کسی ہاسپٹل میں جائیں گے تو وہاں پر ہزاروں لوگ جو ہیں، اس کے اندر داخل ہوتے ہیں روزانہ، جب ایک ہسپتال جو ایک ہزار Bedded hospital ہو، اگر اس کے اندر Twenty thousand لوگ جانا شروع کر دیں روزانہ، جو Visitors کی شکل میں ہوں گے، وہ اس کی لائٹ استعمال کریں گے، وہ اس کے واش رومز استعمال کریں گے، وہ اس کی Water sanitation کو استعمال کریں گے، وہ ہر چیز کو استعمال کریں گے تو آپ اندازہ کر لیں کہ وہ کیسے ہاسپٹل ہو سکتا ہے؟ اس کی بڑی بنیادی وجہ یہ ہے کہ ہمارے ہاسپٹلز کے اندر جو اس کی Back up support ہے، That is the health technicians, nurses, medical staff، یہ ہمارے ہاں مفقود ہیں، It is on the verge of its collapse. This is the time to make heavy investment in order to protect and safeguard the health system- آپ کو بڑے پیمانے پر نرسنگ کیلئے، ہیلتھ سٹاف کیلئے، میڈیکل سٹاف کیلئے، جو پیرا میڈیکل سٹاف ہے، اس کیلئے آپ کو بڑی Investment کرنی ہے۔مجھے حیرانگی ہے کہ حکومت کی نظر سے یہ اتنا اہم معاملہ، آپ بلڈنگ پہ جتنا مرضی خرچ کرتے جائیں، They will be nothing more investment than the investment in the cement and water, but you need to invest in the capacity تو آپ مجھے بتائیں کہ کہاں پر آپ نے صوبے میں نرسنگ سکولز میں ایڈیشن کیا ہے؟ آج بھی ایبٹ آباد کا نرسنگ سکول ہے، اس کے اندر 50 نرسز جو ہیں، وہ Annual ان کی پاسنگ آؤٹ ہے، 50 نرسز کا ایڈمشن ہوتا ہے۔ اور یہ پیرامیڈیکل سٹاف کو جتنے بڑے پیمانے پر Train کریں گے، I tell you, this is a market for our people، جتنا پیرامیڈیکل سٹاف ہے، یہ مارکیٹ ہے، ان کی پوری دنیا طلب گار ہے لیکن آپ اپنی ضرورت بھی پوری نہیں کر سکتے ہیں اور دنیا کی ضرورت کیا پوری

کریں گے؟ ہمارے ہاں بےروزگاری ہے، This was one area جہاں پہ آپ Human resource میں Investment کرتے تو I assure you, in next five years many thousand people would have been coming out into the market, not only for your own hospitals but for rest of the country and rest of the world. So, I will suggest to the hon'ble Minister کہ وہ اس پہ ضرور توجہ دیں گے۔ اسی طرح یہ آپ کے Six billion rupees کا Special Initiative Program ہے، میں اس کے اوپر صرف اتنا کہوں گا کہ Most of this fund will be wasted, there is no check and balance، آپ جو Endowment fund قائم کرتے ہیں، یہ کبھی میرٹ پہ نہیں گیا، مجھے بتادیں، ریکارڈ لیکر آجاؤ اس اسمبلی کے اندر کہ کب میرٹ پر وہ Endowment fund جو ہے، وہ خرچ ہوا ہے، آپ نے کسی مستحق کو کب مفت دوائی دی ہے؟ وہ تو منتیں کرتا ہے، رلتا ہے۔ آپ یقین کریں آنریبل سپیکر! کہ میں آپ کو بتاتا ہوں، میں دعا کرتا ہوں کہ اللہ تعالیٰ کسی کو بیمار نہ کرے کیونکہ آج ایک بیمار کی جو حالت ہوتی ہے، اس کا نہ علاج Afford کرسکتا ہے، نہ فیس Afford کرسکتا ہے، And everything go unchecked. This is the area، یہاں پہ Special initiative میں بہت سی بڑی ایسی جگہیں ہیں، I will suggest please, you have a number of members with you، آپ اپنی پارٹی کے ممبرز جو نئے ہیں، Young ہیں، Talented ہوں گے، ان سے سنیں، ڈسکس کریں اور اس کے اندر نئی تجاویز لائیں۔ یہ 6 ارب روپے، Six billions کی یہ Investment ہے، This should not be wasted۔ ایک بہت اہم چیز ہے، آپ نے کہا ہے کہ ہم Lowest 20%، جو غربت سے نیچے ہیں، جن کا میں ابھی ذکر کر رہا تھا کہ جن کو نہیں مل رہا ہے، ان کے 20 فیصد جو Poverty line پہ رہتے ہیں، ان کیلئے آپ نے ہیلتھ انشورنس کی سکیم رکھی ہے۔ یہ کونسے بیوقوف، Who will select this twenty percent? اس ملک میں ریکارڈ پر ہے کہ پچھلے دس سالوں میں غربت 30 سے 60 پہ گئی ہے تو کیا آپ 60% جو محروم

طبقہ ہے، اس میں %20 کو آپ Segregate کریں گے، کیسے کریں گے، دکھائیں مجھے، بتائیں؟ یہ وقت تھا کہ آپ ان 60 فیصد لوگوں کو Cater کرتے، جو لوگ Afford کرسکتے ہیں پیسہ اپنے علاج کا، They should be charged، ان کو چارج کرنا چاہیئے اور That money should be back into the system for catering requirement of the sixty percent of the people، یہ کیسے ہو سکتا ہے؟ اسی ہاسپٹل میں ایک امیر آدمی بھی جائے، اس کو کمرہ مل جائے اور ایک غریب آدمی جو ہے، اس کی چارپائی باہر پڑی ہو گی، کسی نے دیکھا ہے؟ اس میں ایک نئے Vision کی ضرورت تھی کہ اپنے ہاسپٹلز کو اپ گریڈ جتنی مرضی کر لیں، This needs an upgradation in the mental level, it needs a change in the heart. I must tell you کہ جب تک دل میں تبدیلی آپ پیدا نہیں کریں گے آپ کچھ نہیں کرسکتے، تو آپ مجھے کرکے دکھائیں، آپ کیسے کریں گے؟ تو یہ 60 فیصد جو غریب لوگ ہیں، ان کی Requirement اگر آپ نے پوری کرنی ہے تو This health insurance program must be expanded to sixty percent not to twenty percent، یہ بڑی ناانصافی ہو گی۔ اسی طرح آپ نے کہا کہ ہم نے جو ترقی کی ہے، ترقی کا جو Growth rate ہے، اس کو آپ تین سال میں 7 فیصد تک لیجائیں، کونسی ترقی آپ کرنے جارہے ہیں؟ Please don't misguide the people of this province، مجھے بتائیں کہ آپ کونسی ترقی کرنا چاہتے ہیں؟ Do you have Industry with you? Do you have human resource, institutions and organizations in this province? آپ کا صوبہ تو دہشت گردی کا شکار ہے، 60 فیصد ترقی آپ کہاں لیجانا چاہتے ہیں، کونسی جگہ بتانا چاہ رہے ہیں؟ مجھے ایک ایسا انڈسٹریل آپ Base بتا دیں جہاں پہ آپ کی انڈسٹری چل رہی ہے، جہاں پہ آپ کی Human resourse میں Investment ہو رہی ہے، جہاں پہ آپ کی Capacity building چل رہی ہے تو آپ Seven percent growth rate کو اگلے تین سالوں میں لے جائیں گے، اس کا طریقہ

بتادیجیئے ہمیں اور آپ نے کہا ہے کہ غربت کی شرح آئندہ تین سالوں میں موجودہ شرح کے نصف تک لائی جائیگی۔جناب سپیکر، I want to make this on your record، یہ بات ثابت ہونی چاہیئے اس فلور پہ کہ آج اس ملک میں غربت 60 فیصد ہے، اس پراونس میں اور فنانس منسٹر نے وعدہ کیا ہے کہ وہ تین سالوں میں اس غربت کو Fifty percent reduce کریں گے، میں کہتا ہوں اگر آپ Ten percent بھی Reduce کریں گے تو I will salute you، بتادیں آپ ان کو، (تالیاں) اگر آپ کر سکتے ہیں تو پھر آپ ہمیں بتائیں گے، ہم آپ سے تین سال بعد پوچھیں گے یہاں پر، تین سال بعد ہم آپ سے پوچھیں گے۔یہ ریکارڈ پر آپ نے 50 فیصد اس کو Reduce کرنے کا کہا ہے، میں آپ کو 10 فیصد پر چیلنج کرتا ہوں، اس لئے چیلنج کر رہا ہوں کہ اگر آپ کے پاس Vision ہوتا، اگر آپ کے پاس انصاف کا پیمانہ ہوتا تو یہ ہو سکتا تھا۔اب میں اپنی بات کو یہاں کہنا اس لئے چاہتا ہوں کہ چیف منسٹر صاحب آئے ہیں، میرا خیال تھا کہ وہ ایک نئی جماعت کے سربراہ کے طور پر آئے ہیں، ایک نئی پولیٹیکل پارٹی، جس نے صوبے میں لوگوں کو نئے خواب دکھائے تھے، یہ اس کے سربراہ کے طور پر آئے ہیں اور وہ ایک نئی جماعت کے سربراہ، اس کا چہرہ بھی وہی رہتا ہے لیکن It is all possible کہ اس کا دل بدل جائے۔نئی جماعت کے اندر It was all possible، اس کے خیالات مستحکم ہوتے، It was all possible کہ وہ اس نئے Vision کے ساتھ آتا جو جماعت کے ساتھ اس کا ایک Symbol ہے، Symbolic ہے لیکن مجھے افسوس ہے اس بات پر کہ ایسا ہم نے دیکھا نہیں، یہ ساری ناانصافی جو صوبے کے وسائل کے ساتھ ہے، یہ وہی نظام ہے جو ماضی کا نظام ہے، جس کا تسلسل ہے اور یہ کوئی نئی چیز ہم نے نہیں دیکھی، کوئی نیا Vision نہیں دیکھا۔ میں آپ کو پھر دوبارہ گزارش کرنا چاہتا ہوں Before winding up of my speech کہ This is the time کہ آپ اس صوبے کے وسائل کو Equity basis پہ Regions میں Divide کریں اور ایک Act of the Assembly کے ذریعے ایک کمیشن بنایا جائے جو آبادی اور ڈیویلپمنٹ کے فارمولے کو سامنے رکھ کر Secondly -Resources and development, this is No. 1 demand آپ ڈسٹرکٹ ڈیویلپمنٹ میں Rationale create کریں گے، ہر چیز پراونس میں آپ

کے، جس کو کہتے ہیں نا، شکنجے میں نہیں ہونی چاہیئے، آپ کے پنجے میں بھی نہیں ہونی چاہیئے، وہ آپ کے Magnanimity میں ہونی چاہیئے، آپ کا بڑا پن نظر آنا چاہیئے، اس میں آپ کسی کو حق، جو کوئی آپ کی خوشنودی کرے، آپ وسائل ان کے حوالے نہ کریں بلکہ لوگوں کا حق All members sitting on this side. There are numbers of elected people، ہمارے اپنے علاقے میں، ہمارے لوگ ہم سے توقع رکھتے ہیں اور ہمارے عوام کا اس صوبے کے وسائل میں ہمارا حصہ ہے، And we must make it sure کہ ہم اس حصے میں حصہ دار ہیں آپ کے، We are a partner with you, we are not partners in crime with you, but we are partner in good with you. We want to make sure اور دوسری میری آپ سے گزارش یہ ہے کہ آپ یہ سراسر Sense of deprivation ختم کرنے کیلئے ہماری تجاویز پر عمل کریں گے اور پھر اپوزیشن کو ان کا Due status، ان کا Due honour and due respect، We, the people in opposition, are expecting، میں اس لئے آپ سے کہہ رہا ہوں کہ ہمارے کچھ اندازے غلط یا میں اپنے اندازوں کو غلط نہیں کرنا چاہتا لیکن اگر آپ کو یہ خیال ہے کہ صرف حکمرانی کا حق آپ کو اس لئے ہے کہ آپ کے پاس اکثریت ہے تو یہ غلط فہمی آپ کو نہیں ہونی چاہیئے اور نہ آپ کو ہونے دینگے۔ This House is rather composed of the opposition rather it is composed of the treasury benches. We are equally share holders in the goodness and well being and welfare and development of the province. Thank you very much.

(تالیاں)

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: جناب سید محمد علی شاہ صاحب۔

<u>سید محمد علی شاہ</u>: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ ډیرہ مہربانی، جناب سپیکر صاحب۔ سردار صاحب ډیر پہ تفصیل باندې پہ بجټ بحث وکړو، زہ ھم یو څو خبرې کول غواړم د بجټ پہ حوالې سرہ جی۔ زمونږہ سینیئر منسټر سراج صاحب پہ خپل سپیچ کښې د امن و امان حوالہ ورکړې وہ چې گزشتہ حکومت کے دوران امن و امان کی

صورتحال مخدوش رہی، صنعتی ترقی کا پہیہ جام رہا، تعمیر و ترقی کا عمل سست رہا، زه بالکل د دې سره Agree کیږم، ترڅو پورې چې په دې خاوره کښې په دې صوبه کښې امن نه وی راغلے ، هغه صوبه او هغه خاوره چرته هم ترقی نشی کولې، نن مونږه دا خبرې هم کوؤ چې دا جنګ زمونږه نه دے ، څوک دا جنګ Own کوی، څوک ئے Disown کوی، نن که دې صوبې ته مونږه وګورو، د خپل پښتنو حالاتو ته وګورو نو دا د Own کولو او د Disown کولو نه دی، دا به مونږ یو مشترکه Efforts سره دا اور وژنو۔ ما چې څنګه خبره وکړه که په اسمبلئ کښې د ننه دے که د اسمبلئ نه بهر وی، ان شاءاللہ دا په دې امن و امان او د دهشت ګردئ په مسئله کښې به مونږه ان شاءاللہ تعالیٰ ګورنمنټ سره سنګ په سنګ ولاړ یو ځکه چې دا یوا ځې د یوې پارټئ مسئله نه ده (تالیاں) یا د دوه پارټو مسئله نه ده، دا د دې ټولې صوبې او د دې خاورې مسئله ده، د ټولو پښتنو مسئله ده او څنګه چې ما اووئیل چې ترڅو پورې په دې صوبه کښې امن نه وی راغلے ، خدائے شته که دا صوبه ترقی وکړی، دا سې به سل بجټونه راشی، سل بجټونه به تیر شی خو چې د امن و امان مسئله ټهیک نه وی، په ایماندارئ که دا صوبه چرته ترقی وکړی۔ نن په بجټ کښې د ایجوکیشن ریفارمز خبره کیږی، د هیلتھ ریفارمز خبره کیږی، زه صرف سراج صاحب ته دا یو دغه کوم چې Foreign Aid دوئ په 15 Billion باندې دوئ ورکړے دے ، Foreign aid د ایجوکیشن د پاره، د ډونرز خبره کیږی نو چې په دې صوبه کښې دغسې حالات وی چې کوم د دهشت ګردئ حالات دی، په دې یوه میاشت کښې زمونږه د دې صوبائی اسمبلئ دوه غړی زمونږ نه جدا شو، لا آغاز نه دے شوے نو که په دې صورتحال کښې چې زمونږه د صوبائی اسمبلئ ممبران محفوظ نه دی نو ډونرز به دلته څنګه راځی؟ یا په 100 پرائمری سکولونو باندې یا په 20 یا 25 یا 50 مډل سکولونو باندې ریفارمز نه شی راتلے۔ نن په دې صوبه کښې تقریباً که مونږه Overall وګورو، څه 24 / 23 هزار پرائمری سکولونه دی او د یکسان نظام تعلیم خبره زمونږه سراج صاحب وکړه، ډیره ښه خبره ده، مونږه پخپله هم غواړو چې دا سې نظام د رائج شی په دې صوبه کښې خو د دې څنګه چې سردار صاحب خبره وکړه، د دې Implementation به سپیکر صاحب! څنګه کیږی؟ نن که

د پرائمری لیول نه مونږه دا نظام راوستل غواړو نو کم از کم 23 هزار ټیچران مونږ له بهرتی کول غواړی، آیا زمونږ سره دومره وسائل شته؟ کم از کم دا به د انګلش میډیم 'ټرینډ' ټیچران غواړی نو آیا زمونږ سره دومره وسائل شته چې پرائمری لیول نه مونږه 23/24 هزار ټیچران بهرتی کړو یا مونږ څه نور داسې، دا ډونرز به دومره زمونږ سره حمایت کوی په داسې حالاتو باندې چې مونږ ایجوکیشن ریفارمز راولو؟ بل طرف ته سراج صاحب خبره وکړه 50% چې کوم داسې ایریاز دی، چې کوم کښې سپروائزری سټاف د پاره به 50% الاؤنسز زیاتوی نو په هغې کښې د یو څو ډسټرکټس خبره شوې ده خو زما په خیال چې هغه ډسټرکټس به کافی نه وی، جنوبی اضلاع کښې هم تکالیف وی، خلقو ته په چترال کښې هم تکلیف وی، په اپر هزاره کښې هم خلقو ته تکلیف وی، په ملاکنډ کښې هم خلقو ته تکلیف وی، په بونیر کښې هم خلقو ته تکلیف وی، نو زما دا یو درخواست دے، دا یو تجویز چې یره هغه ایریاز هم پکښې Include کړئ چې کوم پکښې Include شوی نه دی جی۔ بل طرف ته جناب سپیکر صاحب، ټیکنیکل ایجوکیشن ته که مونږ وګورو نو دا زما په خیال ښنګه چې سردار صاحب خبره وکړه چې کوم سی ایم راځی نو اکثر مونږ دا ټوله اسمبلی که هغه د اپوزیشن ممبران وی، که د ټریژری بینچز وی نو زمونږه دا یو Blame وی چې یره ټوله توجه هم هغه ډسټرکټ ته روانه ده۔ نن که ټیکنیکل ایجوکیشن دا یو ډیر Important subject دے سپیکر صاحب، د دې صوبې خو که تاسو سوچ وکړئ صرف ترجیح ئے یوې ضلعې له ورکړې ده او هغه زما په خیال ټولو ته به پته وی چې هغه کومه ضلع ده نو صوابئ ده، بالکل هغه ټولو ته پته ده چې صوابئ، سی ایم صاحب ناست دے، دے په دې تیر حکومت کښې هم پاتې شوے دے، زمونږ سره هم په حکومت کښې پاتې شوے دے او ان شاءاللہ دا زما پوره پوره یقین دے چې دے به پکښې داسې Discrimination ان شاءاللہ تعالیٰ نه کوی۔ جناب سپیکر صاحب، که هیلتھ سائډ ته مونږ وګورو چې په بجټ کښې زیات ترجیح، زه دا بالکل منم چې زمونږ چې کوم Main hospitals دی، LRH شو، KTH شو، HMC شوه یا نور داسې غټ هاسپټلز کښې زیاته توجه په دې بجټ کښې هغه ځائے ته ورکړې شوې ده نو زما سراج صاحب ته دا یو خواست دے، سی ایم صاحب هم

ناست دے ، دا سې ایریاز شته چې په کوم ځائے کښې خدائے شته چې ترا وسه پورې یوه ډ سپنسری نشته او چې د هغه ځائے نه مریض مونږه LRH ته را وړو، چې د هغه ځائے نه مریض مونږ KTH ته را اوړو، که د هغه ځائے نه مریض مونږه HMC ته را وړو یا که د هغه ځائے نه مریض مونږ مردان ته را اوړو نو خدائے شته چې هغه به په لاره باندې وفات شوے وی نو زما دا یو تجویز دے چې دا سې ایریاز چې کوم ځائے کښې روډز نشته، چې کوم ځائے ته رسائی نشته نو کم ازکم وړې وړې ډ سپنسریا نې هلته جوړول پکار دی چې کم ازکم هغه First aid سړی ته ملاؤ شی نو په لاره KTH ته که راځی که LRH ته راځی، که مردان ته راځی، که نور دا سې غټ هاسپټلز ته راځی نو کم ازکم رسائی به هغه ځائے پورې کیدے شی۔ (تالیاں) جناب سپیکر صاحب، که مونږ ایګریکلچر سائډ ته وګورو، سراج صاحب په خپل سپیچ بجټ کښې دا واضحه الفاظو سره ذکر کړے دے چې زمونږ دا صوبه تقریباً 80% Dependent ، بالواسطه یا بلا واسطه Dependent ، د ډیر افسوس سره زه دا خبره کوم چې هغسې توجه مونږه ایګریکلچر له نه ده ورکړې، هغسې توجه مونږ خپل زمیندارو ورونړو له نه ده ورکړې چې کومه مونږ له پکار ده۔ زما په خیال څه 1.5 بلین روپئ مونږ په دې بجټ صرف د ایګریکلچر د پاره او دا هم د خوشحالئ خبره ده چې شهرام غوندې د ایګریکلچر منسټر شو او دے به، زما پوره پوره یقین دے چې ان شاءاللہ تعالیٰ ایګریکلچر د پاره به پوره پوره کار کوی او توجه به ان شاءاللہ تعالیٰ ورکوی۔ زه صرف دا وایم، دا سې Incentives پکار دی زمیندارو ورونړو له چې بلا سود قرضه ورله پکار ده، نن که مونږه په دې باندې سوچ وکړو چې زمونږه صوبه کښې صرف شل بلډوزر دی، هغه ناکاره بلډوزر دی او زما په خیال د شلو د پاره تجویز دے نو پکار ده چې نن که د Sugarcane ریټ مونږه وګورو هغه ډیر زیات کم دے ، که د ټوبیکو ریټ مونږه وګورو هغه ډیر زیات کم دے ، که دا نور دا سې چې کوم د زمیندارو سره Related فصلونه دی، د هغې ریټس که مونږه وګورو، ډیر زیات کم ریټس دی۔ نو پکار ده چې مونږه په هغې باندې هم توجه ورکړو نو دا ټولې خبرې په ایګریکلچر سائډ باندې دغه دی، پکار ده چې مونږ زیات Incentives ایګریکلچر سائډ له ورکړو۔ جناب سپیکر، ډیر افسوس سره دا

خبره کوم، سراج صاحب زمونږ خو ګاونډی دے او زما په خیال چې د ټولو نه په دې هاؤس کښې به دوئ ته زیاته پته وی چې یره د ګاونډی ډیر زیات حق دے خو زه ډیر افسوس سره دا خبره کوم چې 500 یا 500 plus، 525 کلو میټر روډ ز چې کوم دی، زما په خیال 200 کلو میټر روډ ز چې کوم دی، هغه صرف امبریله سکیم دے او دا نور چې کوم دی، صرف څلور یا پینځه ضلعو باندې Distribute شوی دی۔ څنګه چې سردار صاحب خبره وکړه، دا زمونږه بد قسمتی به اووایو یا پته نشته چې د دې هاؤس سره کومه نمونه سلوک کیږی، پکار ده چې دا په انصاف، د حضرت عمرؓ د انصاف خبره سراج صاحب په خپل تقریر کښې کړې ده خو دا انصاف نه دے چې صرف پینځه ضلعو له به ته دا روډ ونه ورکوې او 200 کلو میټره هغه هم د سی ایم صاحب په Discretion باندې دی، که د هغوی خوښه وی چې چا له ئے ورکوی، که اپوزیشن له ئے ورکوی یا که بل، د Need basis ذکر په هر ځائے کښې شوے دے، که د سکول ذکر کیږی، هغه په Need basis باندې کیږی، که د روډ ز ذکر کیږی، هغه په Need basis، د دې Need basis criteria پکار ده چې دا Need basis څه ته وائی؟ که هغه پینځه ډسټرکټس کښې Need basis باندې روډ ونه کیږی خو خیر دے او دا نورو روډ ونو کښې، زه اوس هم سراج صاحب ته دا ښنود لے شم چې اولنی Tenure کښې چې کله د دوئ د ایم ایم اے دور وو، د هغه روډ دوئ پخپله افتتاح کړې وه، زه اوس هم سراج صاحب ته دا خبره کوم چې هغه روډ، د دوئ بورډ ورته اوس هم لګیدلے دے او خدائے شته که اوسه پورې لس کاله وشول، هغه روډ اوسه پورې نه دے جوړ شوے۔ زما دا ریکوسټ دے چې کم از کم دا سې روډ ونه چې کوم ځائے ته رسائی نشته، ما اوس تا سو ته اووئیل چې کوم ځائے ته د سړی پهنچ نشته نو کم از کم هغه ضلعې له یا هغه ډسټرکټ له کم از کم ترجیح ورکول پکار دی او دوئ پخپله وائی، دوئ پخپله دا خبره کوی چې مونږ به هر ضلعې سره یو شان سلوک کوؤ خو زما په خیال چې په دې صوبه کښې صرف شپږ یا اووه ضلعې نشته، دې صوبه کښې ډیرې ضلعې دی۔ جناب سپیکر صاحب، زه یو خبره سراج صاحب یا سی ایم صاحب هم نا ست دے چې کوم ټوبیکو سیس، Net hydel share او ګیس رائلټی هر ډسټرکټ ته ملاویږی، د هغې خپل خپل شیئرز دی جی، څنګه چې زمونږ دا

صوبه د Net hydel د پاره یا د ګیس رائلټی د پاره مرکز ته منتونه کوؤ، سوال ورته کوؤ چې یره دا پیسې زمونږ د پاره زیاتې کړئ نو د غسې نن سی ایم صاحب ناست دے او دې نه زه دا فائده وچتوم چې دا هر ضلعې ته به چې کوم ځائے کښې دا ګیس پیدا کیږی، چې کوم ځائے کښې Net hydel share دے او ستاسو هم د داسې ضلعې سره تعلق دے چې هلته د ګیس ذخائر ډیر زیات دی، دا ټوبیکو چې کوم ځائے کښې پیدا کیږی، دا share 5% به هغه ضلعې ته ملاویدو، بیا تیر ګورنمنټ هغه شیئر 10% کړو نو زما دوئ ته دا ریکوسټ دے چې ریټس زیات شوی دی، ډیویلپمنټ په هغه پیسو باندې نا ممکنه دے، که دوئ دا خبره کوی چې یره کرپشن کوی، د هغې د پاره خپل یو میکینزم شته، د هغې د پاره یو خپل طریقه کار شته، کم از کم د غه Percentage د 10% نه راولی، هغه د 15% کړی۔ نو دا زما یو ریکوسټ دے سراج صاحب ته چې یره کم از کم دا د 10% نه راولی دا د 15% کړی۔ بل جناب سپیکر صاحب، ما خو وئیل سردار صاحب به پکښې ذکر وکړی، دا د مهنګائی دور کښې چې کوم دوئ تجویز کړی دی، 10% د تنخوا ګانو، Sorry 15% د تنخوا ګانو نو که مونږه فیډرل ټیکسز ته وګورو او دې مهنګائی دور ته وګورو نو کم از کم دا سرکاری نوکران چې کوم دی، دا هم دې ګورنمنټ ته ئے ستر ګې دی، دې بجټ ته ئے ستر ګې دی او خدائے شته چې په دې وخت کښې دې تنخوا ګانو باندې ګزاره کول ډیره ګرانه خبره ده نو زه ګورنمنټ ته دا یو تجویز هم ورکوم چې کم از کم د 30 نه واخله د 35% پورې دا تنخوا ګانې د سیوا کړی۔ زه په اخر کښې د ګورنمنټ هم شکریه ادا کوم، څنګه چې سردار صاحب خبره وکړه چې کوم بنه کارونه دی، ان شاء الله تعالیٰ دا هغوی له تسلی ورکوم چې دا به سپورټ کوؤ خو چې کوم د دې صوبې د مفادو خلاف یا د دې هاؤس د دغه د پاره څه خبره راځی، مونږ به بالکل د هغې بهرپور مخالفت کوؤ او ان شاء الله تعالیٰ چې د اپوزیشن څه کردار وی، هغه به ان شاء الله تعالیٰ بهرپور طریقې سره ادا کوؤ۔ ډیره مهربانی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: جناب سردار حسین بابک صاحب۔

جناب سردار حسین: شکریه سپیکر صاحب۔ جناب سپیکر صاحب! دا دومره Seasoned او بیا سیاسی مشر، د ډیر سیاسی او ډیر ټیکنیکل سپیچ نه پس حقیقت

دا دے چې زمونږ په شان یو سیاسي ورکر ته خبره کول ګران شي خو بیا هم چې کوم د 14 - 2013 بجټ په دې معزز ایوان کښې پیش شوے دے او زما نه مخکښې هم چې خبره وشوه، تاسو وګورئ چې په یو ځائے باندې زما یقین دا دے چې د امن و امان په مسئله باندې شروع هم د غه ځائے نه کیږي او اختتام د غه ځائے نه کیږي او بیا دا دومره اهمه مسئله ده چې څنګه زما نه مخکښې هم ذکر وشو چې که په یو خاوره یا په یو وطن کښې امن نه وي یا سکون نه وي او هلته تحفظ نه وي، هلته د ترقئ تصور چې دے، دا ممکن نه دے۔ د امن و امان مسئله چې په دې بجټ کښې په کوم انداز کښې هغې ته توجه شوې ده یا په کوم انداز کښې د هغې ذکر شوے دے سپیکر صاحب، دا ډیره زیاته د افسوس خبره ده۔ که مونږ دا وائټ پیپر وګورو، د 09 - 2008 د بجټ نه که مونږ شروع کوؤ او دې ټول فګرز ته مونږه وګورو، په 09 - 2008 کښې چې د امن و امان د پاره یا سیکورټي د پاره چې په کوم بجټ کښې اضافه شوې ده، هغه 27.57 وه، بیا په 10 - 2009 کښې که مونږ وګورو، دا 47.55 وه، په 11 - 2010 کښې که مونږه وګورو، دا 117.44 یا 44 وه او بیا تاسو 13 - 2012 ته وګورئ چې 24.117۔ دا ډیره زیاته د افسوس خبره ده چې دلته ذکر هم وشو چې داسې ابتداء مونږ وکړه چې په 11 مئی باندې الیکشن شوے دے او نن زما یقین دا دے شلم تاریخ دے او د دې معزز ایوان یو دوه ښکلي ځوانان چې که دي، فرید خان دے که عمران خان دے، هغه نن دلته موجود نه دي۔ د امن و امان صورتحال دا دے او امن و امان ته سنجیدګي بیا په دې شکل باندې چې په 14 - 2013 کښې 1.82 اضافه په دې بجټ کښې کیږي نو بیا سپیکر صاحب، مونږ په دې نه پوهیږو چې یو طرف ته خبره کیږي چې کرپشن ختموؤ او بل طرف ته هغه سیکورټي فورسز لکه هغه پولیس دي او که هغه نور دي، چې تاسو د هغوی په بجټ کښې دومره کمي راولئ، دا Operational cost یا دا چې که مونږ ورته ټرینګ ورکوؤ، که مونږ د هغوی Capacity build up کوؤ، که مونږ د هغوی Skill improve کوؤ او دا ممکنه نه ده۔ تاسو وګورئ سپیکر صاحب! زما نه مخکښې هم دلته ذکر وشو، سرمایه کار به دلته څه راشي، دلته د هماکې دي او که مونږ د 11 تاریخ نه راوخلو دا تر شلم، تر نن ورځ پورې که مونږه وګورو، واړه او لوئې 41 دلته واقعات وشول، 41 واقعات،

په دیکښې Suicide bombers هم وشو په پولیس باندې، غریبانانو باندې، روزانه چې کله هغوی ګشت کوی په هغوی باندې بمونه ورتاویږی، په پولیس چیک پوسټو باندې حملې کیږی، د کانونو کښې دهماکې کیږی۔ په داسې صورتحال کښې زما یقین دا دے چې دې مسئلې ته توجه نه کول، دا چې څنګه زما نه مخکښې خبره وشوه چې بیا دلته د انقلاب خبره کیږی، دلته د بدلون خبره کیږی، دلته د ترقئ خبره کیږی، دلته د انصاف خبره کیږی یا د مساواتو خبره کیږی، زه ډیره زیاته بخښنه غواړم سپیکر صاحب، خو دا صرف د خبرو ترحده پورې پاتې شوه، مونږه خوشبینه یو، الله د وکړی چې د کومې جذبې د لاندې دا زمونږ نوے حکومت راغلے دے، د هغوی د جذباتو، د هغوی د احساساتو مونږ قدر هم کوؤ خو دا په الفاظو نه کیږی، د دې د پاره عمل پکار دے، د دې د پاره سنجیدګی پکار ده، د دې د پاره منصوبه بندی پکاره ده، د هغې نه به دا هر څه په عمل کښې بدلیږی۔ زه به دا هم خواست کوم چې د ډیر وخت نه زمونږ په دې صوبه کښې تاسو وګورئ، پولیو ورکرز دی هغوی ټارګټ کیږی، زمونږه خویندې، ماشومان او زمونږ وروڼه، وزیر اعلیٰ صاحب هم ناست دے، ډیر زیات د خوشحالئ خبره ده، فنانس منسټر صاحب هم ناست دے، زما تجویز دا دے چې دا پولیو ورکرز چې دی، هغه د شهداء په پیکج کښې هم واچولی شی ځکه چې دا ډیر ورکران دی، دا زمونږ شهیدان شو۔ سپیکر صاحب، هغه تهانې چې ورانی شوې، هغه د پولیس چیک پوسټونه چې وران شوی دی، مونږ به دا خواست کوؤ، تجویز کوؤ چې که تاسو وګورئ دلته ټول عمر یو ډیر په روایتی انداز کښې تهانې چې وی، دا په چندو جوړیږی، تهانې چې دی، دا په چندو چلیږی، پکار دا ده چې حکومت دې ته یو ډیر سنجیدګئ باندې غور کړے وے او د دې پولیس چیک پوسټونو د پاره او د دې پولیس سټیشنو د پاره په بجټ کښې یو خاص رقم چې هغه مختص شوے وے او په هره ضلع کښې یا د دې صوبې په یو حصه کښې د یو ځائے نه شروع شوے او د پولیس چیک پوسټونه او هغه پولیس سټیشنې چې هغه جوړې شی۔ سپیکر صاحب، بجلی یا لوډ شیډنګ چې دے، دا د دې صوبې ډیره لویه مسئله ده او مونږ خو په دې طمع وو چې تاسو وګورئ چې دې زمونږه دوستانو ډیرې لوئې وعدې خلقو سره کړې دی او ډیرې لوئې دعوې ئے کړی دی او بیا دا حقیقت دے چې زمونږ په دې صوبه کښې د اوبو نه د بجلئ جوړولو ډیرې

زياتې موقعې دی، ډيرې زياتې موقعې او بيا دا هم واضحه ده چې په ټوله دنيا کښې ارزانه بجلی، اسانه بجلی، دا د اوبو نه جوړيږی او زه په دې خبره نه يم خفه چې زمونږ تير شوی حکومت په اولنی ځل باندې يو لس کالانه منصوبه شروع کړه چې د هغې د لاندې څليريشت ډيمونه چې دی، هغه Propose شو، د څو ټينډر هم وشو او څه د فيزيبيلټی په هغه مد کښې او په هغه حصه کښې پراته دی، نو زه د دې خبرې ګيله نه کوم چې زمونږ وزير خزانه صاحب د دې لس کالنی منصوبې چې هغه په وائټ پيپر کښې خو موجود ده او پخپل تقرير کښې ئے د هغې ذکر ونکړو خو دا رواج چې دے، دا روايت چې دے، دا ښکلے نه دے، دا خو Rotation دے، دا خو جمهوری تسلسل دے، پرون مونږ په حکومت کښې وو، پکار دا ده که د دې صوبې د مفادو د پاره زمونږه حکومت يو منصوبه شروع کړې ده نو د هغې په اعتراف کښې يا د هغې هغه اعتراف کول يا هغه منل، زما يقين دا دے دا د رنه خبره ده، دا غوره خبره ده، دا بده خبره نه ده خو بيا هم زه به دا تجويز کوم او زما به دا طمع وی چې څنګه مرکزی حکومت کښې مياں نواز شريف صاحب باقاعده د کومې ورځ نه چې راغلے دے، هغه کار Update کوی چې د بجلئ مصرف څومره دے او د بجلئ پيداوار څومره دے؟ او بيا هغه حکومت د بجلئ د پيداوار د پاره عملی ګامونه کوم پورته کوی، زما د انرجی او د پاور منسټر صاحب هم دلته ناست دے، زما تجويز دا دے چې دا صوبه چې ده، دا د دې صوبې عوام چې دی، دا ډير په يو لوئے مشکل کښې دی، د څښکلو اوبه نشته، زما نه مخکښې ذکر وشو، بجلی بالکل غائبه ده، بجلی نشته، خلق ډير لوئے په عذاب کښې دی، پکار دا ده چې د دې محکمې وزير صاحب او حکومت دا قوم Update کړی چې دوئ بجلئ له څومره پيسې ايښودی دی، دوئ به څومره ډيمونه جوړوی، دې ډيمونو باندې به څومره لګښت راځی، دا ډيمونه به په څومره وخت کښې تياريږی او دا ډيمونه به څومره پيداوار کوی، د دې ډيمونو نه به څومره آمدن کيږی صوبې ته؟ زما به تجويز دا وی، زما به خواست دا وی چې منسټر صاحب او حکومت چې دے، په ډيره واضحه توګه باندې چې قوم ته دا په ډاګه شی۔ سپيکر صاحب، زه نن د حکومت د دوستانو نه هغه ګيله هم نه کوم ځکه چې دوئ پينځه کاله په مونږ باندې زړه يخ کړے دے، زړه ئے په مونږ باندې تش کړے دے، دا څومره اتحاديان چې دی، دوئ په ډير ټيکنيکل انداز به د نيشنل

پارټۍ خلاف پروپیګنډه کوله، جلسو ته به چې لاړل، دوئ به وئیل نیشنلیانو بجلی خرڅه کړې ده او نیشنلیانو بجلی غائبه کړې ده، نیشنلیانو بجلی پټه کړې ده او دا ئے لا سپیکر صاحب، څه کوې؟ په جماعتونو کښې به ئے ساده ساده خلق پیدا کړی وو نو چې مونځ به وشو نو هغوی به اعلان وکړو، وئیل ایماندارو یو ضروری اعلان واورئ، وائی لاس پورته کړئ چې خدائے پاک مونږ د دې حکومت نه خلاص کړی، نو داسې داسې کار ئے مونږ سره کړے دے، اوس به ورته زه خیرې نه کوم، زه به ورته دعا کوم خو دا دعا به ورته کوم چې خدائے پاک ئے د هغه خیرو نه وساتی چې کومې خیرې دوئ مونږ پسې کولې یا خلق ئے مونږ پسې تیار کړی وو۔ (تالیاں) سپیکر صاحب، دلته د تعلیمی ایمرجنسی اعلان شوے دے او زه ډیر زیات خوشحاله شوم ځکه چې کله ما تقریر اوریدو نو ما لا وائټ پیپر هم نه وو کتلے او ما لا د سالانه ترقیاتی پروګرام کتاب هم نه وو کتلے او زه ډیر زیات په دې خبره خوشحاله شوم چې پینځه کاله په جلسو کښې به ما اوریدل او پریس کانفرنسونو کښې به مونږ اوریدل، په میډیا کښې به مونږ اوریدل، مونږ ته به ئے ګوته نیوله چې مونږ د خلقو په شان نه یو چې مونږ په حکومت کښې راشو نو بیا به مو سر نیولے وی چې بیا به پالیسی جوړوو، بیا پرې فیصلې کوؤ، مونږ سره تیارې فیصلې دی، تیارې پالیسئ دی او مونږ سره منصوبې دی، نو زه په دې خبره ډیر زیات خوشحاله شوم چې ما وئیل الله د وکړی، ما وئیل زه چې کله منسټر جوړیدم نو زما په دې سر کښې سپین ویښته نه وو، چې کله پینځه کاله پس ما دا منسټری پریښوده نو زما یقین دا دے، زما دا سر ستا په وړاندې دے، مونږ خو پرې سټرې شو چې مونږ خو په تعلیم کښې انقلاب رانه وستو، ما وئیل زه خو ډیر زیات خوشحالیږم چې فنانس منسټر صاحب او زمونږ حکومت چې دے په تعلیم کښې انقلاب راولی او زه د دې خبرې هم شکریه ادا کوم د حکومت چې 'پڑھے گا پختونخوا او بڑھے گا پختونخوا'، دا Creative نعره چې وه، دا د عوامی نیشنل پارټۍ وه چې د هغې تقلید فنانس منسټر صاحب وکړو او په خپل سپیچ کښې ئے اووئیل، زه د هغوی شکریه ادا کوم (تالیاں) خو ما پکښې Change ونه لیدو، روښانه پختونخوا پروګرام مونږ شروع کړے وو، زه ئے شکریه ادا کوم چې جاری ئے وساتلو، ستوری د پختونخوا پروګرام مونږ

شروع کړے وو، دوئ جاری وساتلو، دوئ پکښې Increase وکړو۔ مونږ Ten top ته به سکالرشپ ورکولو، دوئ Twenty ته ورکوی، زه ئے شکریه ادا کوم خو زه حیران په دې یم چې د دې صوبې ټولو ځلمو تحریک انصاف له ووټ ورکړو، د دې صوبې ټولو ځلمو د بدلون په نامه باندې ووټ ورکړو، د دې صوبې ځلمو د روایتی سیاست د چیپټر ختمولو په نوم باندې دې حکومت له ووټ ورکړو، مونږ یو سکیم ځلمو د پاره شروع کړے وو چې هغه لیپ ټاپ سکیم وو، نوے سحر او ما اندازه کوله، ما پیشن ګوئی کوله چې مونږ پینځویشت زرو ځلموته، بچوته، بچیانو ته لیپ ټاپ ورکولو، ما وئیل چې د تحریک انصاف او دې اتحادیانو دوستانو حکومت راضی وی نو دوئ به یو لاکھ پینځویشت زرو ځلموته او پیغلوته لیپ ټاپ ورکوی، هغه سکیم دوئ ختم کړو۔ Justification ئے نشته، زه دا هم غواړم چې فنانس منسټر صاحب کله زمونږ د خبرو جواب راکوی چې مونږ ته Justification راکړی چې د دې صوبې د ځلمو د پاره چې مونږ لیپ ټاپ شروع کړو، نو لیپ ټاپ سپیکر صاحب، دا ډکشنری ده، زمونږ په وخت کښې د دنیا ټول علم چې دے، دا کمپیوټر ته راغونډ شوے دے او مونږ غوښتل، دا دنیا چې ده دا ګلوبل ویلیج دے او مونږ غوښتل دا چې د دې وطن ځلمی چې دی، د دې وطن پیغلې چې دی، دا د دې نوې ګلوبل ویلیج او د دې نیوی کلی، چې ټول کلی، دا دنیا یو کلے دے، مونږه وئیل چې زمونږ ځلمی او زمونږ پیغلې د دې کلی حصه پاتې شی، دا سکیم مونږ د هغې د پاره شروع کړے وو، دوئ ختم کړو۔ ما د بجلئ ډیر تعریف وکړو او دلته بجلی لاړه، (تالیاں) ما ورته سپیکر صاحب، خیرې نه دی کړی، زه ورته دعا کوم چې خدائے د ساتی ان شاء اللّٰه که خیر وی۔ سپیکر صاحب، دلته یو بل پروګرام دے، په تعلیم کښې ئے شروع کړے دے چې اقراء فروغ تعلیم او زه به په ایډوانس کښې وایم چې ما له به دا جواب څوک نه راکوئ چې اقراء ډیر دروند نوم دے او ډیر خوږ نوم دے او د هغه پاک کلام نوم دے، زه د نوم خبره نه کوم خو چې کله مونږ روښانه پختونخوا پروګرام شروع کړے دے او په بجټ کښې د څلور سوؤ سکولونو انتخاب شوے دے، روښانه پختونخوا هغه پروګرام دے چې د دې صوبې په کوم یونین کونسل کښې د جینکو مډل او هائی او د هلکانو مډل او هائی سکول نشته، د پرائیویټ سکولونو په مرسته سره به هغه هلکان هغه ماشومان به هغه سکولونو ته ځی او چې

څومره بچیان ، څومره بچی هغه سکولونو ته ځی ، حکومت به د هغوی فیس ورکوی۔ دا اقراء فروغ تعلیم سکیم چې دے سپیکر صاحب، دا Duplication دے۔ تاسو وګورئ چې زمونږ په سرکاری سکولونو کښې ټول غریبانان دی، دکاندارا ن دی، اټیمار دی، ډیلی ویجیز دی، ډرائیوران دی، کلینډران دی، شل سکولونه به دوئ شروع کوی، د دې زه تاسو ته Demerits ښایم، دا ډیر لوئے Discrimination دے۔ اول خو دا واضحه نه ده چې دا سکولونه د جینکو دی که دا د هلکانو دی؟ دا پرائمری دی، دا مډل دی او که دا هائی دی؟ Suppose په یو یونین کونسل کښې مونږ سره لس پرائمری سکولونه دی او یو سکول دوئ په یو یونین کونسل کښې کهلاؤ کړی او هغې باندې د پرائیویټ آواز ولګی، د هغه سرکاری سکولونو نه به ټول ماشومان راځی او په هغه یو سکول کښې به داخلیږی او هغه سرکاری سکولونه چې دی، هغه به خالی پاتی کیږی۔ سپیکر صاحب، زما تجویز دا دے چې تاسو د څلورو سوؤ، حکومت د څلورو سوؤ سکولونو انتخاب کړے دے، پینځه سوه سکوله ئے کړئ، شپږ سوه سکوله ئے کړئ خو Duplication مه کوئ، Triplication مه کوئ، د پیسې ضیاع چې ده دا نه ده پکار۔ د هغې وجه دا ده چې روښانه پختونخوا سکیم چې دے، په اولنی کال کښې مونږ سل سکولونه ورکړل، په دې ټوله صوبه کښې هغه یونین کونسلې چې وې، هغه مستفیدې شوې او نن چې دے هغه پروګرام ډیر زیات ښه روان دے۔ زما تجویز دا دے چې دا روښانه پختونخوا ته چې دا کومې پیسې ورته مختص شوې دی، هغې ته ئے کړئ چې دا کار روان وساتلے شی۔ سپیکر صاحب، دلته اعلان شوے دے چې مدرسو ته به یو ارب روپئ مونږ ورکوؤ او چې کله مونږ نیشنلیان د مدرسو او یا د مولیانو خبره کوؤ نو مونږ پسې ډیرې خبرې کیږی، وائی دوئ مولیانو پسې خبرې کوی او مدرسو پسې خبرې کوی۔ سپیکر صاحب، چې کله مونږ سکول له پیسې ورکوؤ که بنیادی سهولیاتو له ورکوؤ، که د هغې Daily consuming دے، چې کومې خرچې دی هغه ورکوؤ یا که څه د هغې فیزیبیلټی د پاره ورکوؤ، د هغې باقاعده پراپر آډټ کیږی۔ په بجټ کښې دا خبره نشته چې دې مدرسو له مونږ دا یو ارب روپئ ورکوؤ، آیا دا ورله څه له ورکوؤ، د دې به آډټ څنګه کوؤ؟ زما تجویز دا دے چې دا ډیره زیاته غوره خبره ده او زه په دې فورم وئیل غواړم چې مدرسه چې ده، دا د دینی علومو مرکز دے،

محور دے ، حق دے ، (تالیاں) په دیکښې شک نشته خو په دیکښې هم بیا شک نشته چې په دې صوبه کښې اکثریتی دینی مدرسو باندې د مذهبی دینی جهنډې لګیدلې دی، د دې نه تاسو انکار نه شئ کولے۔ زما خواست دا دے چې که مدرسو له دا پیسې ورکوئ، که مدرسو له دا پیسې ورکوئ، پکار دا ده چې مدرسو له پرې کمپیوټرې واخلئ، د مدرسو مهتممان صاحبان چې دی، هغه دې خبرې ته Convince کړئ، پینځه کاله کښې خو مونږ Convince نه کړې شو، مونږ ورته وئیل چې مدرسه یو سکول دے ، راځئ چې په دیکښې نصاب هم شروع کړو، راځئ چې په دیکښې کمپیوټر هم شروع کړو، راځئ چې تاسو ورته د دنیا تعلیم وایئ، راځئ چې د اخرت د تعلیم سره سره په دیکښې د دنیا تعلیم هم شروع کړو۔ زما تجویز دا دے وزیر خزانه صاحب ته او زما حکومت ته دا خواست دے چې مهربانی وکړئ اول خو دا خبره واضحه کړئ چې مدرسو له به دا پیسې په کوم کوم مد کښې ورکوئ او بیا کوشش دا وکړئ چې د مدرسو دا مشران چې دی، دا Convince کړئ چې د غلته تعلیمی نصاب چې دے ، هغه مونږ د غلته شروع کړو، زما یقین دا دے چې دا به ډیره زیاته غوره خبره وی۔ سپیکر صاحب، دوئ وائی چې مونږ به کوالټی ښه کوؤ، دا ډیره خوږه خبره ده او دا ډیره زیاته ښه خبره ده۔ دوئ ترلې دا خبره هم کوی چې بلډنګ جوړول څه معنیٰ نه ده، چې په یو ځائے کښې سکول نشته Accessibility نشته او زه بیا دا دعویٰ کوم چې زه به Dropout ختموم، بیا دې خبره باندې خو زما ذهن کار نه کوی، ته به یو ځائے کښې سکول جوړوې نو بیا به دا امکان لرې چې دلته Dropout ختمیږی، ته به Accessibility ورکوې نو بیا به دا خبره Ensure کیږی چې دلته به Enrolment سیوا کیږی۔ سپیکر صاحب، د ډیر لوئې بدقسمتئی نه زما د دې صوبې د پرائمری سکول Composition چې دے ، هغه دوه کمرې دی، په یوه کمره کښې به پکار دا ده چې زه شلویښت بچی او شلویښت بچیانې کیښنوم، وزیر صاحب هم ناست دے ، د هغوی د انفارمیشن د پاره چې کله پرائمری سکول ته مونږه ورشو، زما په یوه یوه کمره کښې شپږ شپږ شلې او اووه اووه شلې بچی د یو بل د پاسه ناست وی او زه دلته دا دعویٰ کوم چې په دوه کاله کښې او په درې کاله کښې به کوالټی ښه کوم، دعا ورته کولې شو خو تجویز زما دا دے ،

تجویز زما دا دے ، وزیر اعلیٰ صاحب هم ناست دے ، تجویز مو دا دے چې راځئ چې اول دا Composition بدل کړو۔ پرائمری سکول چې دے ، دا کم از کم پینځه کمرې یا شپږ کمرې پکار دی او مونږ د هغې ابتداء هم کړې ده، ډیر سکولونه داسې دی چې هغه په دغه لیول باندې جوړیږی۔ اهمه خبره بیا Land purchase دے ، د لته د سلو سکولونو خبره وشوه، د پنځوس سکولونو خبره وشوه، د پینځویشت سکولونو خبره وشوه، پرائمری سکول له، مډل سکول له، هائی سکول له، هائر سیکنډری سکول له حکومت زمکه نه اخلی او تاسو پخپله اندازه وکړئ چې د پیښور خبره یوائې نه کوم، دا که بونیر دے ، دا که دیر دے ، دا که شانګله ده، که هره ضلع ده، پینځویشت واړه ضلعې دی، د زمکې قیمت ډیر زیات وچت دے اوس، اول خو به خلقو زمکه ورکوله، حکومت به ورله یو کلاس فور ورکړو، په هغې کښې یو Thrill یو Attraction وو، اوس هغه شے ختم شوے دے ، زما تجویز دا دے چې که لږ سکولونه جوړیږی خو چې حکومت Land purchase کوی، زما یقین دا دے چې دا به ډیره زیاته بهتره خبره وی او بل دا چې بلډنګ ورکړی چې بل جوړیږی، د هغې نه به هم مطلب دا دے چې مونږ ته ډیره زیاته فائده راوځی او دا سکولونه به سیوا کیږی۔ سپیکر صاحب، Reconstruction له به راشم، د 2005ء د زلزلې هم خبره وشوه، زمونږ په حکومت کښې قدرتی آفات یا انسانی آفت دا دوه آفتونه راغلی وو، ډیره لویه بدقسمتی دا وه۔ د 2005ء خبره به وکړم چې په هغه وخت کښې زلزله د بدقسمتئ نه راغلې وه، د کومو ضلعو ذکر چې زمونږه د اپوزیشن لیډر صاحب وکړو، ډیر سکولونه داسې وو چې هغه روغ موټ وو خو هغه ارتاؤ شوی دی، که بدقسمتی ورته وائی که خوش قسمتی ورته وائی، هغه هم د سراج صاحب د حکومت وو او ماشاء الله اوس بیا سراج صاحب دوئ په حکومت کښې راغلل او Non strategic سکولونه دی، هغه د Reconstruction په بجټ کښې ذکر نشته۔ زما به خواهش دا وی چې هغه ټول سکولونه چې په قدرتی آفت کښې، په انسانی آفت کښې زمونږ په حکومت کښې وران شوی دی، د هغې Reconstruction عمل چې دے ، هغه روان دے ، چې کوم سکولونه پاتې دی د هغې د پاره USAID هغوی

Pledge کړې دہ، هغوی خپلې پیسې هم، خپل Assessment هم کوی، کار هم برابر کوی خو د 2005ء-----

(مغرب کی اذان)

<u>جناب ڈپٹی سپیکر:</u> دس منٹ کیلئے نماز کا وقفہ کیا جاتا ہے۔

(اس مرحلہ پر ایوان کی کارروائی مغرب کی نماز کیلئے ملتوی ہو گئی)

(وقفہ کے بعد جناب ڈپٹی سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے)

<u>جناب ڈپٹی سپیکر:</u> جی سردار حسین بابک صاحب پلیز۔

<u>جناب سردار حسین:</u> شکریه سپیکر صاحب۔ زما یقین دا دے چې حکومت ستړے شوے دے نو حکومت خو زما یقین دے چې دومره زر نه راځی، مخامخ خو زما یو دوه مشران ناست دی، زما دوه خوږه مشران ناست دی، یو د دیر دے، یو د بونیر دے، هغوی ته به ئے واوروم۔ ما د تعلیم په حواله باندې چې کومه خبره وکړه، زما هغې کښې دا تجویز دے چې په ځائے د دې چې د دغه ریفارمز په نوم باندې Duplication وشی، ډیره زیاته غوره خبره به دا وه چې مونږ دا ادنیٰ نه واخلئ تر لسم جماعت پورې کتابونه هم ورکول، بیا مونږه وظائف هم ورکول، شپږم جماعت نه واخلئ لسم جماعت پورې د صوبې هر ایک جینئ ته هر ایک بچی ته وظیفه مو ورکوله۔ مناسب خبره به دا وه، غوره خبره به دا وه چې دې حکومت یونیفارم اعلان کړے وے، زما یقین دا دے چې هغه به ډیر زیات یو Creative, innovative idea وه، یو ډیر Practical step به وو۔ نو زمونږ تجویز دا دے که دا عملی شوه، دا به دې صوبې د پاره ډیر زیاته غوره خبره وی، ډیر زیاته بهتر خبره به وی۔ سپیکر صاحب، بلدیاتو ته به راشو، تاسو وګورئ په ټولو جمهوری مملکتونو کښې، ریاستونو کښې بلدیات چې دی، لوکل باډیز کښې دا ډیر زیات اهمیت لری او تاسو به اوواییئ چې دا فورم چې دے یا که پارلیمان دے یا د لیجسلیشن فورم شو، دا د کوڅو، د محلو وړې وړې مسئلې په کلو کښې، په محلو کښې په وطن کښې، دا د لوکل باډیز ذمه واری ده۔ څنګه چې عمران خان صاحب اعلان کړے دے چې په 90 ورځو کښې به دننه دننه هغوی وائی چې په دیکښې به مونږه د لوکل باډیز الیکشن

کوؤ او پرون چې څنګه هغوئ حلف واخستو، راغلو بیا په پارلیمنټ کښې هغوی دا اعلان وکړو چې په 90 ورځو کښې به مونږ الیکشن کوؤ۔ که تاسو وګورئ په دې بجټ کښې خو د بلدیاتو دې الیکشن د پاره رقم مختص دے، Allocation خو شوے دے خو مونږ په بجټ سپیچ کښې وانه وریدل د حکومت نه چې هغوی وئیلې وے چې او د خپل قائد او تحریک انصاف چیئرمین دے، د هغه د حکم مطابق به په دې صوبه کښې 90 ورځو کښې د ننه د ننه الیکشن کیږی، زمونږ طمع ده چې کوم رقم هغوی Allocate کړے دے، پکار دا ده چې د تحریک انصاف چیئرمین اعلان کړے دے چې 90 ورځو د ننه د ننه پکار دا ده چې په دې صوبه کښې بلدیاتی الیکشن چې دے، دا یقینی کړی۔ سپیکر صاحب، صحت چې دے، په هغې باندې خبره هم وشوه او زمونږ د صوبې د ګوټ ګوټ هسپتالونه چې دی، حقیقت دا دے چې هغې ته چې انسان ورشی نو ډیر زیات افسوس سړی ته کیږی، هلته د مریضانو علاج څه کوئ چې روغ خلق لاړ شی، هلته نه نا روغه راواوځی۔ زمونږ به دا تجویز وی، زمونږ به دا طمع وی، زمونږ امید دے، حکومت به صحت ته ډیره زیاته توجه ورکوی۔ ډسترکټ هیډ کوارټر هاسپټلز چې کوم دی، د هغې د پاره خو دوئ وئیلی وو چې دا به Teaching hospitals کښې مونږه Convert کوؤ خو که تاسو وګورئ، بجټ کښې د هغې د پاره څه Allocation نه ښکاری نو زمونږه څنګه چې د لته وزیر اعلیٰ صاحب اعلان کړے وو چې د غه ډسترکټ هیډ کوارټر هاسپټلز چې دی، دا به Teaching hospitals کښې مونږه بدلوؤ، زمونږه دا طمع ده چې په دې کال کښې به د دې ټولې صوبې د اعلان مطابق، د وعدې مطابق دا حکومت چې دے، هغه به Teaching hospitals کښې بدلوی۔ سپیکر صاحب، د زراعت ذکر د لته وشو، زمونږ د ټول ملک او بیا خصوصاً زمونږ صوبه چې ده، 80 فیصد انحصار د دې په زراعت باندې دے او بیا که مونږ په دې خپله صوبه کښې وګورو، تمباکو مونږ سره داسې یو فصل دے چې دا ډیر نقد آور فصل دے، دا Cash crop دے، په بونیر کښې، په صوابئ کښې، په مانسهره کښې به محدود و ځایونو کښې ورجینیا چې ده، د دنیا بهترین ورجینیا چې ده دا پیدا کیږی۔ مونږ که وګورو په دې بجټ کښې د زراعت د پاره چې کومه توجه مونږه غوښته، چې کومه سنجیدګی یا عملی قدم

مونږه غوښتو یا چې کوم فنډز یا د ریفارمز د اصلاح د پاره مونږه توجه غوښته، هغه توجه په نظر نه راځی۔ زمونږ دا رائے ده، زمونږ دا تجویز دے چې د دې صوبې زراعت ته د ډیر زیات اهمیت ورکړے شی۔ دلته که تاسو مونږ وګورو، زمونږه ډیرې زمکې غریزې دی، دلته Land leveling پکار دے، په بجټ کښې هغه څیز په نظر باندې نه راځی چې هغه بنجره زمکه وی، هغه ورانې زمکې چې هغه ورانې پرتی دی چې هغه زمیندارو ته کاشت کارانو ته په ارزان نرخونه باندې یا هغه پبلک پرائیویټ پاټنرشپ په ذریعه باندې، چې کومه مرحله هم داسې وی، کوم طریقه کار هم داسې وی چې هغه Land leveling هم وشی۔ د ایریګیشن هم دغه حال دے، پکار دا وه، نن ډیر انحصار زمونږ په زراعت باندې دے، هغه زمکې چې هغه بارانی زمکې دی، په ملاکنډ ډویژن کښې، په هزاره ډویژن کښې قدرتی داسې چینې دی چې په هغې کښې Reservoir جوړ شی یا هغه اوبه چې دی، هغه سټور شی، زما یقین دا دے چې یو خو به د طوفان نه، د آفتونو نه زمونږ صوبه په امن شی او دویمه دا چې دغه اوبه چې دی، دا به ضائع کول نه وی، دا به ضائع نه شی، دا به پکار را شی۔ ایریګیشن چینلز چې دی، هغه به ورسره برابر شی او دا زمکه چې ده، دا به قابل کاشت کړی او زمونږ په زراعت کښې به کافی حده پورې ترقی را شی۔ پبلک هیلتھ ته که سپیکر صاحب، مونږه راشو، ډیره لویه بدقسمتی دا ده چې زمونږ په صوبه کښې په هرځائے کښې اکثریتی زمونږه د څښکلو د اوبو چې کوم ټیوب ویلز دی، چې کوم سکیمونه دی، د هغې پائپونه یو خوا انتهائی زاړه شوی دی، زنګ آلود شوی دی یا هغه ډیر زیات وران دی، نن چې په دې بجټ کښې ما وکتل، د هغې د پاره ډیر لږ رقم مختض شوے دے، پکار دا ده چې په Existing Infrastructure پبلک هیلتھ کښې په هغې باندې ډیر زیاته توجه وشی، هغې کښې Allocation چې کوم دے چې هغه سیوا شی۔ دا پائپونه زاړه دی چې هغه نوی شی، که لږ ډیر خرابے دے، هغه ډیر زیات تاسو پخپله سوچ وکړئ چې په سکیم باندې دوه کروړه، دوه نیم کروړه روپئ خرچه راغلې ده، لس لکھو د لاسه د شل لکھو، هغه کروړونو روپو د لاګت سکیمونه چې دی، هغه وران پراته دی، زمونږ دا طمع ده ان شاءالله چې حکومت به دې ته توجه ورکوی که خیر وی۔ سپورټس تاسو وګورئ سپیکر صاحب، د ډیر لوئې بدقسمتئ نه زمونږ په دې صوبه کښې په جسمانی توګه باندې هم د هشت

ګردی چې ده، دا موجوده ده او ذهنی توګه باندې هم دا دهشت ګردی چې ده، دا انتها پسندی چې ده، دا دلته موجود ده۔ مونږه دا ګڼو چې تعلیمی ادارې که جوړول ضروری دی او دا ډیر زیات ضروری دی چې څه ته مونږ نصاب وایو خو هم نصابی سرګرمئ چې هغه سپورټس دے، هغه Play grounds دی، هغه Sports facilities دی، که دا مونږ ځلمو ته ورنکړو، تر دوه بجو پورې، تر درې بجو پورې، تر یو بجې پورې خو هغه ځلمی چې دی، هغه سټوډنټان چې دی، هغوی خو خپل تعلیم کښې مصروف وی خو دا سیکنډ ټائم چې دے، که هغوی ته مونږ د سپورټس موقع ورنکړو، زما یقین دا دے چې دا ځلمی، دا ځوانان دا به زمونږ نه خدائے مه کړه Spoil شی۔ په بجټ کښې مونږ نه وینو چې سپورټس د پاره، د Play grounds د پاره ولې دومره په سنجیدګئ باندې دوئ توجه نه ده کړې؟ زمونږ وزیر خزانه صاحب ته او حکومت ته دا خواست دے چې د غه Play grounds ته، د غه Sports facilities ته دومره توجه ورکړی چې څومره توجه تعلیم ته مونږه یا زمونږ حکومت ورکوی۔ سپیکر صاحب، که دلته مونږ راشو ځنګلاتو له، ځنګلات په دې صوبه باندې چې کوم Natural resources دی، ځنګل په هغې کښې یو قدرتی وسیله لری، اللّٰه تعالیٰ زمونږ دې صوبې ته ځنګلات ورکړی دی، د ډیر لوئې بدقسمتئ نه د ځنګلاتو د بچاؤ چې کومه طریقه ده، هغه ډیره زیاته عجیبه طریقه ده، تاسو وګورئ چې کوم ځنګل چې دے هغه صوبائی حکومت پسې انتقال دے، هغه په خپل فاریسټر باندې یا هغه په خپل ایمپلائی باندې ساتل ډیره زیاته ګرانه خبره ده۔ زمونږ د دې معاشرې سره بیا څه معاشرتی اقدار هم دی، څه روایات هم دی، دا زمکې د چاچا دی، پکار دا وه چې پبلک پرائیویټ پارټنرشپ، دا طریقه ګورنمنټ ته هم قابل قبول ده، دا بین الاقوامی ادارو ته هم قابل قبول ده، د ځنګلاتو محکمې ته او حکومت ته به زمونږ دا خواست وی چې هغه طریقه ده چې هغه Adopt کړی او چې هغه زمیندار چې کوم زمیندار د ځنګلاتو مالکان دی چې کوم خلق دی، پکار دا وه چې د هغوی او د حکومت په صلاح باندې، په مشوره باندې، چې د غه ځنګل بند شی او زما یقین دا دے چې په آمدن کښې هغه مالکانو ته یا هغه زمیندارو ته یو Percentage مقرر شی، یو حصه، یو برخه ورته مقرر شی، بیا به د حکومت نه سیوا

هغه زمیندار د هغه ځنګلاتو بچاؤ به ډیر زیات کړی. نو زما یقین دے چې په دې طریقه باندې زمونږ د دې صوبې جنګل چې دے ، دا به ډیر زیات بچ پاتې شی. سپیکر صاحب، انډسټریز کښې تاسو وګورئ، د هغې ذکر هم وشو، د امن نه بغیر یا د بجلئ نه بغیر د لته انډسټری لګیدل ممکنه نه ده خو بیا هم که مونږ قدرتی وسیلو ته وګورو، زمونږ دا صوبه واحده صوبه ده چې د لته ډیر زیات قدرتی وسائل دی، د لته افرادی قوت دے ، د لته Raw materials دی خو لږ مینجمنټ غواړی، لږه توجه غواړی، زمونږ دا خواست دے ، حکومت ته پکار دا ده چې د دې صوبې انډسټریز ته ډیره زیاته توجه وکړی. د بجلئ مونږه ذکر وکړو، په امن وامان باندې مونږه خبره وکړه، زما یقین دا دے ، بلکه زمونږ تجویز هم دا دے که حکومت ډیر په سنجید ګئ سره د غه طرف ته پام وکړو نو زما یقین دا دے چې دا مسئله هم تر ډیره حده پورې حل کیدې شی. سپیکر صاحب، په دې بجټ کښې یا په دې بجټ تقریر کښې څنګه چې زمونږ اتحادی جماعتونو په خپل منشور کښې هم لیکلی دی چې مونږ به د بیروزګارئ خاتمه کوؤ، تاسو وګورئ په دې بجټ تقریر کښې هم نشته چې آیا په راروان پینځو کالو کښې زمونږ دا موجوده حکومت چې دے ، دا به څومره زره خلقو ته روزګار ورکوی؟ د دې پکښې هډو ذکر نشته. پکار خو دا وه چې د وزیر خزانه صاحب حکومت دا اعلان کړے وے چې مونږ به راروان پینځه کالو کښې څلویښت زرو خلقو ته روزګار ورکوؤ، مونږ به پنځوس زره خلقو ته روزګار ورکوؤ یا هر څومره زمونږ Available وسائل یا زمونږ Resources دی، د هغې د ننه پکار دا وه چې د خپل منشور د دعوې، د وعدې مطابق دې حکومت د لته په دې فورم باندې اعلان کړے وو چې مونږ به په دې کال کښې یا به پینځه کالو کښې دومره دومره خلقو ته روزګار ورکوؤ، هغه پکښې هم مونږ ونه لیدل خو بیا هم د بجټ په دې وخت باندې حقیقت دا دے چې مونږ څیزونه Generalize کوؤ نه، د لته د میډیا ملګری هم ناست دی او دا خبره ضروری ګڼم، دا ډیره زیاته عجیبه خبره ده، تاسو وګورئ د لته ماته لګی دا چې حکومت څیزونه Own کوی نه، او دا څومره لویه د افسوس خبره ده چې دا حکومت خپل منتخب ارکانو ته پروټیکشن نشی ورکولے ، خلق وائی چې مونږ پروټوکول نه اخلو، ډیره زیاته ښه خبره ده، بعضې زمونږ مشران وائی چې مونږ خو فلانکے هاؤس نه استعمالوؤ، ډیره زیاته ښه خبره ده خو وخت او حالات نن

د دې تقاضه کوی، نن په هاؤس کښې دوه کرسئ خالی پراتې دی، هغه دوه ملګری خو زمونږ شهیدان شو خو دا کوم ملګرے چې نن دلته ناست دے، آیا حکومت څه تسلی ورکوی، څه باورورکوی د دې ځائے پروټیکشن د پاره؟ دا په دې خبره باندې خو نه کیږی چې پرون تاسو مونږ Blame کولو چې دا پالسی غلطه ده ځکه دلته بدامنی ده، نن تاسو اوس دا خبره کوئ چې دا د مرکز مسئله ده، مرکز وائی دا د صوبې مسئله ده او زما د خیبر پختونخوا نه ئے یو فټبال جوړ کړے دے، مرکز مو دلته رااولی، صوبه مو هلته ولی، هیڅوک ئے Own کوئ نه او زه به دا وایم چې خیبر پختونخوا اوس د الله تعالیٰ په رحم و کرم باندې ده. زه خواست کوم، تجویز کوم، رائے ورکوم چې مونږ دا منو چې دا ګران کار دے، ظالم ته ظالم وئیل ګران دی، مظلوم ته په دې وخت کښې مظلوم وئیل هم ګران دی، قاتل ته قاتل وئیل هم ګران دی، مونږ ورته اووئیل، مونږ ته سزا ملاؤ شوه، مونږ دا نه وایو، دې خپلو وروڼو ته دا خبره کوؤ چې دا مسئله یوائې د دوئ نه ده، دا زمونږه هم ده خو نن راپاځئ یو واضحه پالیسی دې قوم له ورکړئ چې د ترهه ګرئ په دې جنګ کښې چې تاسو وایئ چې زمونږ نه دے او جنازې مونږ وچتوؤ، راشئ او نن دې قوم له یو واضحه پالیسی ورکړئ، زه کم از کم د اپوزیشن د طرف نه دا ډاډه ورکوم چې دا خبره یوائې ستاسو نه ده، که ظالمان په تاسو ډز کوی قوم د پاره او د قوم د بچو د پاره نو د اپوزیشن د غاړې زه کم از کم دا اعلان کوم چې اول ډز به په مونږ کوی بیا به وروستو زمونږ په قوم باندې کوی (تالیاں) خو سپیکر صاحب، دا دومره مصلحت، دا دومره خاموشی چې د دې هاؤس دوه ممبران شهیدان کیږی او وزیران صاحبان چې خپل تعریفونه کوی، خپلې دعوې کوی، د انقلاب چرچې کوی، په ګهنټو ګهنټو هغوی سره وخت وی او دومره هم وزیران نه شی کولې چې یا هسپتال له ورشی یا د هغوی جنازو له ورشی، نن دا قوم حیران دے چې دا کوم ماحول جوړ شو؟ سپیکر صاحب، د ژوند د پاره او د مرګ د پاره الله تعالیٰ یو ټائم مقرر کړے دے، الله تعالیٰ چې کومه ورځ مقرر کړې ده، د دنیا یو قوت او یو طاقت هغه ټائم نه شی ښولے، هغه نه شی بدلولے، لهذا زه خپلو وروڼو له دا باور ورکوم چې یریږی د نه، د قوم جنګ دے، په وطن جنګ دے، نن تاسو وګورئ چې هغه عمران چې دلته ناست وو، په آزاد حیثیت باندې وو، سیټ ئے ګټلے وو. هغه فرید خان چې په آزاد

حیثیت باندې ئے سیټ کټلے وو، د قوم یو اعتماد ورته وو، د قوم اعتماد ورته حاصل وو، نن هغوی د لته نشته. پکار دا ده چې دا صوبائی حکومت که دوئ لویه جرګه راا غواړی، که دوئ آل پارټیز کانفرنس راا غواړی، که دوئ مرکز سره خبره کوی، که دوئ اسټیبلشمنټ سره خبره کوی، که دا د دې ملک نورو ادارو سره خبره کوی، مونږ ورته دا خواست کوؤ چې د دې صوبې په خاطر باندې، د دې اولس په خاطر باندې، د دې وطن په خاطر باندې راپاڅئ او نوره خاموشی مه کوئ ځکه چه دا شے به بیا راځی او ستاسو په ګریبا ن کښې به پریوځی. بهرحال دا زمونږ یو څو تجویزونه وو، زمونږ د لته د خبرې غرض چې دے، مقصد چې دے، هغه هر ګز دا نه دے چې مونږ د تنقید برائے تنقید وکړو، دا وطن چې دے، دا زمونږ د ټولو وطن دے، زمونږ په نظر کښې چې کوم څیزونه د صوبې د پاره صحیح نه وی، مونږ خپله ذمه واری ګڼو چې هغه د حکومت په وړاندې د هغې بنچونو په وړاندې راولو. ډیره زیاته مهربانی او ډیره زیاته شکریه.

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: جناب اسرار اللہ گنڈاپور صاحب۔

<u>وزیر قانون</u>: سر، رول 66 کے تحت چونکہ اگر منسٹر پہ کوئی Allegation آئے تو وہ بول سکتا ہے۔ بابک صاحب نے پرجوش خطابت میں کچھ باتیں ایسی کیں، میرے خیال میں چونکہ باقی وزراء صاحبان موجود نہیں ہیں لیکن مختصراً میں یہ کہنا چاہونگا کہ جہاں تک ڈر کا تعلق ہے تو میرے خیال میں ایسی کوئی بات نہیں ہے، منسٹرز صاحبان جو ہمارے دو شہداء ہیں، ایم پی ایز صاحبان اور اس کے علاوہ جتنے بھی زخمی تھے، ان کی عیادت کیلئے بھی گئے ہیں اور اس سلسلے میں وزیر اعلیٰ صاحب نے بھی، آج جہاں تک میری معلومات ہیں، دعا کیلئے وہاں پر گئے ہیں تو ریکارڈ کی درستگی کیلئے میں یہ کہنا چاہتا ہوں۔ باقی صوبائی حکومت کی طرف سے جو ہمارے ترجمان ہیں، وہ اس وقت ہاؤس میں ہیں نہیں، وہ اس پہ تفصیل سے بات کر سکتے ہیں تاہم ان کی تسلی کیلئے یہ میں بات کردوں کہ ان شاء اللہ ان کے پوچھنے کیلئے بھی گئے ہیں اور حکومت یقیناً ان سے غافل بھی نہیں ہے اور باقی چونکہ بجٹ کے حوالے سے کچھ تجاویز انہوں نے دی ہیں، ان شاء اللہ ہم نے وہ نوٹ کر لی ہیں، جب سراج صاحب آئیں گے تو وہ اس کے حوالے سے مفصل جواب دینگے۔ ساتھ ہی میری یہ گزارش ہوگی کہ چونکہ پارلیمانی لیڈر صاحبان نے تقریریں کر لی ہیں اور کافی ٹائم ہو گیا ہے، اگر آپ اس کو کل تک ملتوی کر لیں تو یہ میرے خیال میں بہتر رہے گا۔ تھینک یو، سر۔

جناب ڈپٹی سپیکر: معزز اراکین اسمبلی سے استدعا ہے کہ کل وقت کی پابندی کا خیال رکھیں اور چار بجے تمام اراکین اسمبلی یہاں پر پہنچ آئیں۔ The Sitting is adjourned till 4.00 p.m. of tomorrow afternoon. Thank you.

(اجلاس بروز جمعۃالمبارک مورخہ 21 جون 2013ء بعد از دوپہر چار بجے تک کیلئے ملتوی ہو گیا)